بسم الله الرحمن الرحيم

د حقوقي قواعدو ځانګړنې (خصوصيات)

ليکونکی: ډاکتر محمد ظريف علم (ستانکزی)

هره علمي څانګه د خپلو ځانګړو قواعدو لرونکې ده، د حقوقو علم هم د قواعدو لرونکې ده، چې د نورو علومو له قواعدو سره متفاوت او توپيرېږي.

د حقوقي قواعدو ځانګړتياوې د هغو درې ګونو موخو لپاره چې عبارت د ثبات راوستل، د امنيت خوندي کول، دعدالت پلي کول او په ټوله کې د ټولنې د نظم د تنظيمولو لپاره اساس ګرځول شوې دي.

د افغانستان حقوقي سيستم کلونه کلونه د قوانينو په وضع کيدلو سره خپل د پوخوالي پړاونه تير کړي دي چې د قوانينو منابع په افغاني ټولنه کې د اسلامي شريعت له احکامو او معتقداتو نه په ګټه اخيستلو سره سم وضع شوي دي او په هر برخه کې د حقوقي قواعدو په رڼا کې مباحث لري زه غواړم پدغه بحث کې يو بيلګه د افغانستان حقوقي سيستم په ځانګړي ډول د حقوقي قواعدو په ځانګړنې (خصوصياتو) د قانوني بيلګو سره سم په لاندي مطالبو کې توضيح کړم:

لومړی مطلب: د حقوقي قواعدو مفهوم

په لومړي سر کې دا لازمه ده، چې حقوقي قواعد تعريف کړو، ورپسې بيا د هغو ځانګړتياوې تر څېړنې لاندې ونيسو.

لغوي مانا: قواعد د قاعدې جمعه ده او په لغت کې د اساس، تهداب او بنسټ په مانا کارول کېږي.

قاعده د مختلفو نظريو له مخې تعريف شوې ده، چې د فقهي قاعدې يادونه هم کولای شو، حال دا چې زموږ موخه د هغو له حقوقي اضافت سره د قواعدو تعريف دی، البته دا به بېځايه نه وي، چې د فقهي قواعدو تعريف هم ولرو؛ ځکه د افغانستان په حقوقي سيستم کې فقهي قواعد هوېهو حقوقي قواعد ګڼل کېږي، چې لومړی به حقوقي قواعد او ورپسې فقهي قواعد تعريف او تحليل کړو.

۱ .د حقوقي قواعدو تعريف: د هغو دساتيرو او لارښوودونو له ټولګې څخه عبارت ده، چې د اجرا له ضمانت سره يوځای د کلي او الزامي ځانګړتيا لرونکي او د ټولنې د نظم پر تنظيمولو واکمن دي.

د تعريف د قيدونو شرحه:

الف) د خپلې ځانګړتيا له مخې حقوقي قواعد په ټولنو کې انسانانو ته امرکوونکي او لارښوونکي دي، دا حقوقي قواعد دي، چې د خپلو دستوراتو په واسطه ټولنې ته نظم وربښي. که فرض کړو، چې حقوقي قواعدو شتون نه درلود او يا يې شتون

درلود؛ خو د اجرا د ضمانت تطبيقي اړخ يې نه درلود، بيا به ټولنه کوم لوري ته روانه شوې وه، طبيعي ده، چې په ټولنه کې انارشيزم او بې ثباتي واکمنه ګرځېده.

ب) حقوقي قواعد درې ځانګړتياوې کلي، الزامي او د اجرا ضمانت لري، چې په راتلونکي مطلب کې په تفصيل سره توضيح کېږي.

ج) حقوقي قواعد د ټولنې د نظم پر تنظيمولو واکمن دي، دغه قيد د حقوقي قاعدې موخه بيانوي. له همدې پلوه حقوقي قواعد د ټولنې د نظم د تنظيمولو په موخه او غرض رامنځته شوي او په ټولنه کې د نظم راوستل رامنځته کوي.

د تعريف ټول پورتني قيدونه د حقوقي قواعدو له روح سره جوړ دي او د حقوقي قواعدو د موخې پرېنسټ ياد تعريف وضعه شوی دی.

۲ . د فقهي قاعدې تعريف: يو کلي حکم دی، چې پر ټولو جزياتو او يا له هغو پر زياتو منطبق ګرځي، ترڅو احکام ترې استنباط او يا وپېژندل شي.[۱]

د تعريف د قيدونو شرحه:

فقهي قاعده د فقې له نظره د منطق د علم د قواعدو پرېنسټ يو کلي حکم دی، چې د مسايلو پر اجزاوو او د هغو پر فروعاتو تطبيقېږي او د هغې په وسيله احکام په عام ډول د جناياتو د فقې، د معاملاتو د فقې، ميراث، د کورنۍ د فقې او د عباداتو د فقې احکام استنباط کېږي، لکه څرنګه چې منطقيون قاعده داسې تعريفوي: قاعده له هغې صغرا قضيې څخه عبارت ده، چې پر هغې کبرا قضيه بنا شوې او د حکم استنباط اسانه او سهل ګرځوي.

د قاعدې ټول پورتني تعريفونه په عام ډول د موضوعه حقوقو، فقهي او منطقي تعريف په ټولېز ډول د روښانه کړي دي، چې تر خپل پوښښ لاندې فروعات او مسايل توضيح کوي. د بېلګې په ډول که چېرې دغه قاعده (برائت الذمه اصلي حالت دی) چې د افغانستان اسلامی جمهوريت اساسي قانون د (۲۵) مادې د حکم په ترڅ کې تصريح شوې ده، تر بحث لاندې ونيسو، نو دغه قاعده يوه کلي حقوقي قاعده ده، چې د خپلو مبحثونو ترڅنګ فروعات لري، لکه هېڅ ډول جزا د محکمې د حکم له قطعيت څخه وړاندې په شخص باندې د تطبيق وړ نه ده، ان هغو کسانو ته چې تر عدلي تعقيب لاندې راځي، د مجرم کليمې کارول جايز نه دي، دغه ډول اشخاصو ته د مظنون يا تورن (متهم) اصطلاح کارول کېږي.

کچېرې دغه تورن د محکمې لخوا حکم په اصل باندې کېږي يعنی بيګناه ګڼل کېږي دغه شخص حق لري د جبران خساره تر عنوان لاندې خپل حق له دولت نه مطالبه کړي.

په پايله کې بايد ووايو، حقوقي قواعد فروعات لري، چې د حقوقي مسايلو په حل کې ترې ګټه اخيستل کېدای شي.

---

[۱] - زيدان، عبدالکريم/ الوجيز في شرح القواعد الفقهية، مخ ۷.

دویم مطلب: د حقوقي قواعدو ځانګړتیاوې (خصوصیات)

حقوقي قواعد د کلي والي، الزامي والي او د اجرایوي ضمانت د ځانګړتیاوو لرونکي دي او هر یو خپل ځانګړی مفهوم او ځانګړتیاوې لري، چې په لاندې ډول توضیح کېږي:



۱ .د حقوقي قاعده کلي والی

یوه ځانګړتیا دا ده، چې حقوقي قواعد کلي او عام شموله ده او د ټولنې ټول وګړي په عام او مطلق کلیت او یا په مجرد او مقید کلیت کې مخاطب ګرځوي، چې حقوقي کلي قاعده په عامه کلي قاعده او مجرده کلي قاعده وېشل کېږي.



الف) د حقوقي قاعدې عام کلي والی: دغه قاعده د خپل توصیف له مخې له هغې حقوقي قاعدې څخه عبارت ده، چې د ټولنې ټول وګړي له استثناء پرته په ځان کې د شمول وړ ګرځوي، لکه د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي قانون د (۲۴) مادې د حکم په ترڅ کې د انساني کرامت په اړه حقوقي کلي قاعده تصریح کېږي:

(د انسان ازادي او کرامت له تېري خوندي دی، دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی).

یاده قانوني قاعده په عام او مطلق کلیت کې ده او استثناء نه مني، ټول انسانان په عام ډول د افغانستان اتباع او د افغانستان په قلمرو کې پردي د انسان په توګه له دغه حق څخه ګټه اخیستلای شي، دولت د خپل تکلیف په برخه کې په دې مؤظف دی، چې د هغوی له آزادۍ او کرامت څخه ملاتړ وکړي.

یا په بل مثال کې د اساسي قانون د (۲۳) مادې په ترڅ کې د انسان ژوند ته د درناوي په اړه تصریح کېږي:

(ژوند د خدای جل جلاله بخښنه او د انسان طبیعي حق دی، هېڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي).

یاده ماده د کلیت له اړخه مطلقه ده، هر انسان رانغاړي، په عام ډول ښځه، نر، بوډا، ځوان، ماشوم، افغاني تبعه او پردی ټول چې د انسان په تعریف کې شامل دي، له خپل دغه طبیعي حق څخه ګټه اخیستلای شي، هېڅ کس له خپل دغه حق څخه نه بې برخې کېږي.

ب) د حقوقي قاعدې مجرد کلي والی: د حقوقي قاعدې دغه ډول کلیت په درې لاندینیو ډولونو کې تر مطالعې او تطبیق لاندې نیول کېږي.



د اشخاصو له پلوه د حقوقي قاعدې کلي والی: دغه ډول حقوقي قواعد په هر هغه شخص باندې د تطبیق وړ دي، چې د قانوني شرطونه د هغه په برخه کې تطبیق شي او دغه ډول قواعد کل هکله په ټولو اشخاصو هم د تطبیق وړ دي.[۲]

په دې برخه کې ډېرې بېلګې او مثالونه د افغانستان په قوانینو کې شته دي، هر قانون د خپلو موادو په پیل کې د اشخاصو له پلوه د قانون د تطبیق او یا د قانون د تطبیق د ساحې تر عنوان لاندې قاعده وړاندې کوي، چې د اشخاصو له پلوه د حقوقي قاعدې د کلي والي د ځانګړتیا رانغاړونکې او په مجرد ډول د تطبیق وړ ده. کېدای شي دغسې قانون کې د اشخاصو حقوق، امتیازات، صلاحیتونه او همدارنګه مؤیدات او نور داسې احکام وضعه شوي وي، چې یوازې د قانون د هماغه ډلې د خطاب وړ شامل کسانو په اړه د تطبیق وړ وي.

د بېلګې په ډول د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون (۴) ماده د مثال په شکل راوړلای شو، د یادې مادې عنوان د تطبیق د ساحې تر عنوان لاندې یاد شوی دی او داسې صراحت لري:

(د دغه قانون حکمونه د وزارتونو، د لوېې څارنوالۍ د ادارې، عمومي خپلواکو ریاستونو، خپلواکو کمېسونونو، دولتي تصدیو، د ملي شورى د مجلسینو د چارو د ادارو او قضایه قوې د عمومي آمریت د ملکي خدمتونو پر کارکوونکو باندې د تطبیق وړ دي).

د یادې مادې نفس هغه اشخاص استثناء ګرځولي دي، چې د یاد قانون د (۴) مادې په تعدیل کې داسې تصریح شوي دي:

(د وزارتونو او عمومي خپلواکو ریاستونو نظامي منسوبین، قضات او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د لوړو زده‌کړو د مؤسساتو او د علومو اکاډمۍ د علمي کادر غړي له دې حکم څخه مستثنی دي).[۳]

د یادې مادې حکم د اشخاصو یوه ځانګړې ډله د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د تطبیق په ساحه کې شامله کېږي ده، نور اشخاص د یادې مادې په دویم تعدیل شوي جز کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د تطبیق له ساحې څخه وېستل شوي دي، په دې خاطر چې استثناء شوي اشخاص لکه پوځي اشخاص د خپلو ځانګړو ذاتي چارو په قانون کې شامل ګرځي او د پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ استادان د ځانګړتیا پرېنسټ د خپل ځانګړي قانون شامل ګرځي.

---

[۲] - الدکتور منصور حسین محمد/ المدخل ألی القانون القاعدة القانونیة/ مخ ۲۰.
[۳] - رسمي جریده (۹۵۱)، تقنیني فرمان (۴۲)، ۱۵/۴/۱۳۸۷، د کارکوونکو د قانون د (۴) مادې تعدیل.

په دغه مثال کې په روښانه شکل دا څرګندېږي، چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون د دولت د ټولو کارمندانو په کلي والي کې په مجرد ډول د ملکي خدمتونو کارکوونکي د ملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې شامل ګڼلي دي، په دې ډول چې د دولت د ټولو کارمندانو له کلي قاعدې څخه په مجرد ډول د ملکي خدمتونو کارکوونکي یاد قانون تر خپلې لارښوونې لاندې نیسي.

په دې برخه کې بحث د عام او خاص اصولي قاعده ده، که چېرې په روښانه ډول دغه موضوع تحلیل شي، لکه د افغانستان د اتباعو عامه قاعده د افغانستان په جغرافیوي محدوده کې د اوسېدونکو او اتباعو رانغاړونکې ده، چې دغه قاعده په خپل کلیت کې عامه او مطلقه ده، لکه څرنګه چې د اساسي قانون د (۴) مادې مثال وړاندې روښانه شو؛ مګر له دغې عامې قاعدې څخه د قوانینو خطاب ځینې وخت خاص ګرځي، د افغانستان د اتباعو ترمنځ یو مشخص ټولګی لکه د عامه خدمتونو مؤظفین که هر کله قانون د خطاب او لارښوونې وړ وګرځوي، په دې تړاو د قانون له عام خطاب او لارښوونې څخه چې د افغانستان اتباع دي، د ځانګړې حقوقي قاعدې په مجرد (مقید) کلیت او یوازې د عامه خدمتونو مؤظفینو ته اطلاقېږي، که د عامه خدمتونو د مؤظفینو له ټولګي څخه یو کوچنی ټولګی په پام کې ونیسو، ځینې وخت مقنن د عامه خدمتونو د مؤظفینو له ډلې څخه یوازې د دولت کارمندان د خطاب وړ ګرځوي، چې په دې صورت کې هم د دولت د کارمندانو په یو ټولګي کې له عام څخه پر خاص د قانون احکام تمرکز کوي او یا له دغه ټولګي هم ډېر کوچنی په پام کې ونیسو، د دولت د کارمندانو ترمنځ یوازې د ملکي خدمتونو کارکوونکي فرض کړو، چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون (۴) ماده د خپل تطبیق ساحه د دغه ټولګي په اړه تصریح کوي.

د پورتنۍ توضیح پرېنسټ له داسې حقوقي قاعدې څخه خبر نه یو، چې د یو ځانګړي کس لپاره نافذه شوې وي، په اصل کې حقوقي قاعده په خپل کلیت کې عامه ده او یا هم په خپل کلیت کې ځانګړې ده، د اشخاصو د یو ټولګي لپاره، په دې ډول چې په قانون کې د مجرد کلي والي حقوقي قاعده د موضوعي معیار او یا شخصي معیار له مخې ټاکل کېږي، موضوعي معیار په دې ډول چې قانون د موضوع له پلوه اختلاس، غدر، رشوت، غلا او ... جرم ګڼي، څوک چې د موضوع له پلوه د یادو جرمي اوصافو لرونکی عمل ترسره کړي، د جرم ترسره کوونکی ګڼل کېږي، چې دغه حقوقي قاعده په خپلي کلي والي کې د مجردې موضوع له پلوه د جرمونو په مرتکبینو باندې د تطبیق وړ ده؛ مګر د یادو جرمونو په نه ترسره کولو باندې د مقنن منعه یوه عمومي کلي قاعده ده، نو هر کس چې د یادو جرمونو مرتکب وګرځي، هغه مجازات کېږي.

شخصي معیار په دې ډول چې مقنن د اشخاصو لپاره یوازې او یوازې د صفت او یا مسند له پلوه معیار ټاکي، لکه په پورتنۍ مثال کې د رشوت، اختلاس او غدر جرم یوازې د صفت او مسند له پلوه د هغو کسانو لپاره دغه جرمي وصف ورته نسبت ورکول کېږي چې هغه د عامه خدماتو موظف وي.

کچېري په شخصي معیار کې د اختلاس او په امانت کې د خیانت جرم سره پرتله کړو که عامه مال او یا شخصی مال د عامه خدماتو مامور ته منحیث د دندې وسپارل شي او هغه دغه مال ځانته تصاحب کړي نو په شخصي معیار کې ورته د اختلاس جرم نسبت ورکول کېږي او کچېري دغه شخص د عامه خدمتونو موظف نوي او عادي شخص وي او د امانت مال د ځان لپاره تصاحب کړي نو په امانت کې د خیانت د جرم نسبت ورکول کېږي.

د جزاء حقوقو په خصوصي برخه کې د جرايمو تعريفونه، د جرم خصوصي متشکله عناصر او مجازاتو نه بحث کوي شخصي معيارونه زياتره د جرم د وصف له تعينوالي سره تړاو لري.

د زمان له پلوه د حقوقي قاعدې کلي والی: ياده قاعده په قوانينو کې ډېره په پام کې نيول کېږي، په اصل کې د قانون يوه ځانګړتيا د هغه تداوم دی، پر همدې بنسټ د قانون تطبيق له زماني پلوه د هغه د مجرد تنفيذ او تطبيق له مخې يوازې په يو شخص او يوې پېښې باندې معين او محدودېدای نه شي؛ بلکې قانون استمراري ځانګړتيا لري، چې په راتلونکې کې په مماثلو فرضيو باندې د قانون له انفاذ څخه وروسته واقع کېږي او د تطبيق وړ دی.[٤]

حقوقي قاعده د دې څرګندوونکې ده، چې قانون له توشيح او يا خپراوي څخه وروسته د هغه تر الغا پورې د تطبيق وړ دی.

حقوقي قاعده دا تصريح کوي، چې قانون ماقبل ته رجعت نه کوي، دغه قاعده د زمان له پلوه د عامې کلي قاعدې له ځانګړتيا څخه سرچينه اخلي؛ مګر ځينې وخت په استثنايي شکل مجرده کلي قاعده هم تر دغې حقوقي قاعدې لاندې شاملېږي، چې دغه قاعده د قوانينو په دوو برخو جزايي او غيرجزايي (مدني او عامه حقوقو) کې په لاندې ډول د څېړنې وړ ګرځوو.

په جزايي قوانينو کې د زمان له پلوه د قانون د تطبيق قاعده: د جزا کود د (١٧) مادې (١) فقره د زمان له پلوه د قانون د تطبيق د قاعدې په اړه د حقوقي قاعدې د کلي والي د ځانګړتيا پرېنسټ داسې صراحت لري:

(د جرم مرتکب د هغه قانون پر موجود مجازات کېږي، چې د جرم له ارتکاب څخه د مخه نافذ شوی وي، خو دا چې د قطعي حکم له صادرېدو د مخه داسې نوی قانون وضع شي چې د تورن په ګټه وي).

د جزا کود د پورتنۍ مادې تصريح د زمان له پلوه د قانون په تطبيق کې د مجردې کلي قاعدې اصل بيان او تصريح کوي؛ ځکه جزايي قوانين د جرمونو په هغو مرتکبينو باندې د تطبيق وړ دي، چې د جزايي قوانينو له انفاذ څخه په وروسته وخت کې د جرمي عمل مرتکب ګرځېدلي وي او د جرم او جزا د قانونيت د مجردې کلي قاعدې د قانوني عنصر له مخې د مجازاتو وړ ګڼل کېږي. لکه څرنګه چې په دې اړه د جزا کود د (٧) مادې (١ او ٣) فقرې داسې صراحت لري:

(هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون په حکم چې د هغه له ارتکاب څخه د مخه نافذ شوی وي.)

(هېڅ شخص مجازات کېدای نشي، خو د واکمنې محکمې په حکم، د هغه قانون له حکمونو سره سم چې د اتهام وړ فعل له ارتکاب د مخه نافذ شوی وي).

پورتني قانوني مواد د زمان له پلوه د قانون د تطبيق د قاعدې پرېنسټ د حقوقي قاعدې د مجرد کلي والي د ځانګړتيا له مخې تصريح شوي، لکه څرنګه چې څرګندوي: هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي؛ مګر د هغه قانون له مخې چې د فعل له ارتکاب څخه وړاندې نافذ شوی وي، دغه تصريح د انفاذ د وخت پرېنسټ ده، کومه استثنا چې د پورتنيو موادو په متن کې تصريح

---

[٤] - الدکتور منصور حسين محمد/ المدخل ألى القانون القاعدة القانونية/ مخ ٢١.

شوې، هغې هم د مجردې کلي قاعدې له ځانګړتیا څخه سرچینه اخیستې ده؛ ځکه د استثناء موارد هم د متهمینو لپاره مجرد کلي دي، چې قانون د هغوی په ګټه خپل حکم تصریح کړی دی.

په مدني قوانینو او عامه حقوقو کې د زمان له پلوه د قانون د تطبیق قاعده: په مدني قوانینو او عامه حقوقو کې د زمان له پلوه د قانون د تطبیق قاعده هم د قاعدې پر اصل او د هغې پر استثناء لکه جزایي قاعده تصریح شوې ده، په دې اړه د مدني قانون (۱۰) ماده داسې صراحت لري:

(د قانون حکمونه له خپرېدو څخه وروسته د تطبیق وړ ګرځي، د قانون حکمونه ماقبل ته رجعت نه کوي، مګر په هغو حالتونو کې چې په خپله په قانون کې تصریح شوي وي او یا یې حکمونه د عمومي نظام پورې مربوط وي).

د مدني قانون د پورتنۍ مادې متن درې حالتونه بیان کړي دي، چې درې واړه حالتونه د حقوقي قاعدې مجردې کلي ځانګړتیا سره تړاو تصریح کوي.

لومړی حالت: قانون تر هغه وخت د تطبیق وړ نه دی، ترڅو چې خپور شوی نه وي او احکام یې اشخاص په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته مخاطب ګرځوي، ترڅو د عذر نه لرل چې د قانون له احکامو څخه په بې خبرۍ کې دی، د قانون د خپرولو په واسطه مرفوع شي.

دویم حالت: ماقبل ته د قانون نه رجعت چې وړاندیني حالت پورې تړاو لري، د زمان له پلوه له انفاذ څخه وروسته باید تطبیقي جنبه پیدا کړي؛ نه له انفاذ څخه وړاندې د زمان له پلوه د قانون د تطبیق د حقوقي قاعدې پرېنسټ.

دریم حالت: د قاعدې له اصل څخه استثناء حالت دی، چې دغه حالت هم د حقوقي قاعدې د مجرد کلي والي د ځانګړتیا څرګندوونکی دی او دوه لانديني موضوعات تصریح کوي:

لومړی موضوع: که چېرې مخکیني قانون ته د قانون رجعت په لاحق او نوي قانون کې تصریح شوی وي، په دغه حالت کې قانون ماقبل ته رجعت کوي، البته دغه ټکی هم د حقوقي قاعدې د مجرد کلي والي د ځانګړتیا پرېنسټ دلالت کوي.

دویمه موضوع: قانون ماقبل ته رجعت کوي، په هغه صورت کې چې په نوي قانون کې د هغه احکام په عامه نظام پورې تړاو ولري، په دغه صورت کې هم حقوقي قاعده د مجرد کلي والي د ځانګړتیا پرېنسټ ماقبل وخت ته رجعت کوي، دغه ډول قواعد په هغو قوانینو کې چې د عامه حقوقو لکه د سکتوري او غیرسکتوري اداري قوانینو په برخه کې نافذېږي، د ګټې وړ ګرځي.

د مکان له پلوه د حقوقي قاعدې کلي والی:

هر هېواد په خپل قلمرو باندې د ولکې او واکمنۍ پرېنسټ د کلتوري، دیني، اعتقادي، اقلیمي او ان اقتصادي ځانګړتیاوو له مخې د ټولنې د نظم د تنظیمولو لپاره قوانین وضعه کوي، له همدې اړخه د هر هېواد قوانین د هغه په خپل قلمرو کې د مکان له پلوه د قانون د تطبیق د قاعدې پرېنسټ د تطبیق وړ دي.

د حقوقي قواعده له مخې د يو هېواد مکان وچه جغرافيوي ساحه، سمندري ساحلي اوبه او په ژوره کې تر ځمکې لاندې ساحه او پورته فضايي ساحه رانغاړي. همدارنګه هغه بېړۍ او الوتکې چې د هماغه هېواد ملکيت وي او د هغه هېواد بيرغ ولېږدوي، هم د هماغه هېواد د مکان په ساحه کې ګڼل کېږي.

د مکان له پلوه د قانون د تطبيق قاعده په مجردو کلي جزايي مواردو کې د تطبيق وړ ده، لکه څرنګه چې د جزا کود د (۱۶) مادې (۱) فقره صراحت لري:

(د دې قانون حکمونه د افغانستان پر هر تبعه، بې تابعيته شخص يا هر بهرني تبعه باندې چې د هېواد په قلمرو کې د جرم مرتکب شي، تطبيقېږي).

پورتنی قانوني مثال مجرده کلي حقوقي قاعده ده؛ ځکه د افغانستان ټول اتباع، بې تابعيته اشخاص او يا هغه بهرني اشخاص چې د افغانستان په قلمرو کې استوګنه لري، جرم نه ترسره کوي، ترڅو د هغوی په برخه کې عامه کلي قاعده د تطبيق وړتيا ولري؛ بلکې هر هغه شخص چې د افغانستان په قلمرو کې د مجردې کلي قاعدې پربنسټ د جرم مرتکب وګرځي، د جزا کود مندرج جزايي احکام په هغه باندې د تطبيق وړ دي.

۲ .د حقوقي قواعدو الزامي والی

د ثبات راوستلو، امنيت خوندي کولو او عدالت پلي کولو او تر هر څه ډېر مهم د ټولنې د نظم د تنظيمولو په موخه په ټولنو کې د حقوقي قواعدو بنسټ ايښودل شوی او وضعه کېږي، د حقوقي قواعدو د تضمين د الزامي والي ځانګړنه د هغو د موخو په تطبيق کې ده، په قوانينو کې مندرج حقوقي اوامر او نواهي د جبر په ملتيا د مؤيداتو د وضعې له لارې تطبيقوي.

حقوقي قواعد د خپل الزامي والي په ځانګړنه کې په قوانينو کې په دوه ډوله قواعدو تسجيلېږي:



الف) آمريه قواعد: له هغو قواعدو څخه عبارت دي، چې په مطلق شکل د هغو تطبيق الزامي دی او له دغه ډول حقوقي قواعدو څخه عدول او تېښته جواز نه لري.

امريه قواعد په قانون کې د تکليف، کله کله د وجيبې او يا د امر او نهيې په نورو لفظونو کارول کېږي، دغه ډول لفظونه په قوانينو کې د کړنو د اجرا او يا نهيې د تکليف په قاطعيت او جزاميت سره تصريح کېږي.

د امريه قاعدې د اجرا مثال د اساسي حقوقو او جزاء حقوقو ور هخوا په ادارى حقوقو او قوانينو کې د تدارکاتو د قانون د (۴) مادې په قاعده کې موندلای شو، چې داسې صراحت لري:

(هغه اداري او نور غيربودجوي واحدونه چې تداركات له عامه وجوهو څخه تمويلوي، مکلف دي، د هغو چارې د دې قانون د حکمونو مطابق تنظيم کړي).

د پورتنۍ مادې په متن کې مقنن امريه قاعده د دولتي ادارو او نورو دولتي غيربوديجوي واحدونو لکه شاروالیو، تصديو، دولتي شرکتونو لپاره د تکليف په لفظ تصريح کوي، ترڅو د يادو مواردو په تدارک کې د تداركاتو د قانون احکام تطبيق کړي.

ب) تکميلي (تفسيري او تفصيلي) قواعد: له هغو قواعدو څخه عبارت دي، چې په قانون کې په غيرالزامي او غيرتکليفي الفاظو کارول کېږي. قانون جوړونکی دغه ډول قواعد د امريه قواعدو د اوامرو او نواهيو لپاره د مقدمې او ضمنې بيان په څېر په قانون کې درجوي.

لکه مقنن چې په خپلو عمومي احکامو کې د اصطلاحاتو بنسټ، موخې او تعريف په قانون کې توضيح کوي، دغه قواعد هېڅکله امريه کېدای نه شي؛ بلکې هغه قواعد دي، چې د هغو امريه قواعدو چې وروسته په قانون کې راوړل کېږي، بشپړونکي او مقدمه ده.

دغه ډول قواعد د تکميلي، تفسيري او تفصيلي قواعدو په نوم هم يادېږي، چې درې واړه اصطلاحات خپل مصداق لري. که د اساسي قانون (۳۴) مادې ته پاملرنه وشي، چې داسې صراحت لري:

(د بيان آزادي له تېري څخه خوندي ده، هر افغان حق لري، چې خپل فکر د وينا، ليکنې، انځور او يا نورو وسيله له لارې په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعايت، څرګند کړي. هر افغان حق لري، د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښيي، خپاره او نشر کړي. د مطبعو، راډيو او تلويزيون، د مطبوعاتو د خپرولو او د جمعي ارتباط په نورو وسايلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لارې تنظيمېږي.)

د پورتنۍ مادې په متن کې دغه جمله (د بيان آزادي له تېري څخه خوندي ده) د امريه قاعدې په توګه تصريح شوې ده؛ ځکه د بيان په آزادۍ باندې د تېري منعه او نهيه تصريح کوي. راتلونکې جملې هم :

.تکميلي قواعد نومولای شو؛ ځکه د امريه قاعدې د بشپړتيا لپاره وضعه شوي دي.

.تفسيري قواعد نومولای شو؛ ځکه د امريه قاعدې تفسير او توضيح ده.

.او تفصيلي قواعد نومولای شو؛ ځکه د امريه قاعدې تفصيل يې بيان کړی دی.

پر همدې بنسټ دا ويلای شو، چې تکميلي قواعد کله کله د امريه قواعدو بشپړونکي په قانون کې د پيلامې او مقدمې په توګه درج او يا هم په قانون کې د امريه قواعدو مفسر او تفصيل ورکوونکي غوندې درجېږي، لکه څرنګه چې په پورتني مثال کې په ډاګه شول.

۳. د حقوقي قواعدو د اجرا ایتوب ضمانت

حقوقي قواعد د اجرايي ضمانت د ځانګړتيا لرونکي دي. د دوو وړاندينيو ځانګړتياوو (کلي والي او الزامي والي) په پام کې نيولو سره د اجرايي ضمانت د ځانګړتيا لزوم په منطقي شکل بايد شتون لري، چې په قانون کې مندرج حقوقي قواعد د الزام او اجبار په ملتيا ترسره او پلي شي. نور قواعد لکه اخلاقي قواعد هم د اجرا ضمانت لري، چې دغه اجرايي ضمانت يې په مادي شکل نه دی؛ بلکې په معنوي شکل دی. له اخلاقي قواعدو سره د حقوقي قواعدو توپير همدا دی، چې حقوقي قواعد مادي اجرايي ضمانت لري او د سرغړونکي شخص پر ضد د قانون د مندرجو مؤيداتو واجبوونکي ګرځي.

د حقوقي قواعدو اجرايي ضمانت د هغو د مؤيداتو لکه د جزايي، مدني او اداري مؤيداتو په واسطه رامنځته کېږي، چې وړاندې مو له يادو مؤيداتو څخه د هر يو په اړه توضيح درلوده او په دې برخه کې به يې مثالونو ته اشاره وکړو.

د مثال په ډول که د اساسي قانون د (۲۹) مادې په اړه چې شکنجه او زورونه منعه کوي، پوښتنه دا وي، چې مقنن خو په قانون کې امريه قاعده د ځورونې د منعې په اړه تصريح کړې او که د امريه قاعدې سرغړونکی د قانون منعې او نهيې ته پاملرنه ونه کړي او د اساسي قانون د (۲۹) مادې د خلاف کړنې مرتکب وګرځي، بيا به څه ډول قانوني غبرګون ورته په پام کې وي؟

په ځواب کې د حقوقي قاعدې د اجرايوي ضمانت په ځانګړتيا تکيه کوو، چې په دې اړه د جزا کود د (۴۵۱) مادې حکم داسې تصريح شوی دی:

(هغه شخص چې د شکنجې د جرم مرتکب شي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکومېږي).

د يادې مادې د حکم پرېنسټ د جزا په کود کې ځورونه د جرم په توګه پيشبيني شوې ده او ياد عمل د اجرايي ضمانت د ځانګړتيا د جزايي مؤيدې له مخې د مجازاتو مستوجب تصريح شوی دی.

د مدني مؤيدې مثال د مدني قانون د (۵۷۱) قاعدې په نقض کې پيدا کوو، چې داسې صراحت لري:

(که د عقد د يوې خوا د دوکه کولو له امله بلې خوا ته فاحش غبن متوجه شي، دوکه شوی کولی شي، چې د عقد د فسخه کېدو غوښتنه وکړي، غبن ته هغه وخت فاحش ويل کېږي، چې د عقد په وخت کې د مال د حقيقي قيمت او د هغه قيمت ترمنځ چې مال پرې خرڅ شوی، پنځلس په سلو کې يا تر هغې څخه زيات توپير ولري).

په مدني عقدونو کې غبن، تدليس او دوکه وګرول د امريه قاعدې په توګه ممنوع ګرځول شوي دي، هرکله چې ياد موارد په عقودو کې وليدل شي، مقنن اجرايي ضمانت د مؤيدې پرمټ تضمينوي او عقد د فسخې وړ ګڼي. همدارنګه يې د فاحش غبن[۵] لپاره معيار له (۱۵ ٪) زيات ټاکلی دی. سره له دې يې مؤيده د پورتنۍ مادې د حکم سربېره د مدني قانون د (۵۷۵) مادې د (۱) فقرې د حکم په ترڅ کې د فسخې وړ ګڼلې او داسې صراحت لري:

[۵] - فاحش غبن: له هغه حالت څخه عبارت دی، چې د اصلي قيمت او د انعقاد د قيمت ترمنځ عقد له ۱۵ ٪ څخه په زياته اندازه وي.

(فاحش غبن د عقد د فسخه کېدو موجب ګرځي).

د یادې مادې په (۳) فقره کې د دولت د اموالو، وقف او د محجور شخص د مال لپاره قاعده مطلقه یاده شوې او تصریح کړې یې ده، په هره طریقه چې عقد شوی وي او په هغه کې فاحش غبن شتون ولري، په دغه حالت کې عقد د حقوقي قاعدې د اجرایي ضمانت د ځانګړتیا په توګه د فسخې وړ ګرځي.

هرکله چې په سوداګریزو تړونونو کې غبن وشي، د هغو اجرایي ضمانت هم د تړون فسخه ده. لکه څرنګه چې د سوداګریزو تړونونو او د اموالو د پلور د قانون (۳۰) ماده داسې صراحت لري:

(فاحش غبن له هغې معاملې څخه عبارت دی، چې د معاملې وړ مال د واقعي بې او د هغه د پلورنې د بې ترمنځ داسې توپیر موجود وي، چې د اړوند بازار له وضع څخه خبر عادي شخص ونه کړی شي، هغه معقول وګڼي. هغه قرارداد چې د فاحش غبن له امله عقد شوی وي، د زیانمن شوي اړخ په اراده د فسخې وړ دی.)

د سوداګریزو تړونونو قانون په سوداګریزو معاملاتو کې هم غبن د امریه قاعدې په توګه نهیه کړی او د غبن په صورت کې یې چې معیار یې معقولیت ټاکلی دی، عقد د اجرایي ضمانت د ځانګړتیا په توګه د هغه د مؤیدې له مخې د فسخې وړ ګڼلی دی.

د اداري قواعدو په مواردو کې هم قانون د اداري قواعدو د تطبیق لپاره اجرایي ضمانت اداري مؤیدات ټاکي، د بېلګې په ډول د تدارکاتو د قانون (۳۸) ماده په تدارکاتي تړونونو کې د امریه قاعدې اجرایي ضمانت د اداري مؤیدې په توګه داسې تصریح کوي:

(اداره مکلفه دی، د قرارداد اصلاح او د نقض د جبران حالتونه چې لاندې موارد پکې شامل دي، په اړوند قرارداد کې درج کړي:

۱ . د ناقصو اجراأتو رد، اصلاح او تعویض؛

۲ . د ناقصو اجناسو فوري رد او تعویض؛

۳ . د دې قانون د نهه دېرشمې مادې د حکم مطابق د ځنډ په صورت کې نغدي جریمه؛

۴ . د سرغړوونکي په لګښت، د سرغړونې او بدیل اجراأتو د تدارک په سبب د قرارداد فسخه).

همدارنګه د تدارکاتو د قانون د امریه قواعدو د نقض په صورت کې چې د اشخاصو له خوا نقض کېږي، په جزایي مؤیداتو کې مقنن د (۶۵) مادې د حکم په ترڅ کې ډېر شدید اجرایي ضمانت غوره کړی دی، چې دغسې اشخاص یې د عمل د عمدیت په صورت کې د عدلي تعقیب وړ ګڼلي دي او داسې صراحت لري:

(هغه شخص چې د دې قانون له حکمونو څخه د سرغړونې له امله ځان یا بل شخص ته د ګټې (منفعت) د ترلاسه کولو او یا ادارې ته د زیان موجب شي، د قانون د حکمونو مطابق مجازات او د زیان د جبران په ورکولو هم مکلف دی).

د پام وړ ټکی دا دی، چې مقنن د ادارې د تدارکاتي کارمند او یا قراردادي عمل د عمدیت په صورت کې د عدلي تعقیب وړ ګڼلی او د دولتي تدارکاتي ترونونو د پړاوونو په لړ کې د کارکوونکو له تقصیر څخه رامنځته بې پروایي او غفلت د عدلي تعقیب وړ نه ګڼي؛ ځکه په دې برخه کې د تاوان د جبران اداري مؤیده رامنځته کېږي. لکه څرنګه چې د کار د قانون (۱۰۴) ماده ادارې ته د اوښتي زیان په صورت کې د اجرا ضمانت داسې تصریح کوي:

(کارکوونکی په هغه صورت کې د هغه تاوان چې د دندې د اجرا په وخت کې ادارې ته رسېږي، مسؤل دی، چې اوښتی تاوان د هغه د تقصیر له کبله وي).

لیکونکی: ډاکتر محمد ظریف علم (ستانکزی)